مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۱۵مه | ٤٤٥مه ګڼه

# ولسمشریزې ټاکنې؛
## د رایې ورکوونکو شمېر له دوو میلیونو هم کم شوی دی



۳

### پر ټاکنو کمېسیون د بهرنیو ډیپلوماتانو تمرکز
۲ مخ


### چرا ترکیه مبارزه را به سوریه منتقل کرد؟
۲ مخ

### ولې افغان کډوال بېرته راتګ ته زړه نه ښه کوي؟
۳ مخ

## په بدخشان کې د هوايي بریدونو له امله ۱۵ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

د بدخشان سیمه ییزو سرچینو ویلي چې د دغه ولایت په وردوج ولسوالۍ کې په هوايي بریدونو کې ۹ کسان وژل شوي، شپږ ټپیان دي او د استوګنې درې کورونه ویجاړ شوي دي.
د بدخشان د ولایتي شورا غړي ډاکتر احمد بشیر فهیم پژواک خبري اژانس ته منلې چې حکومتي الوتکو ورمه ورځ د وردوج ولسوالۍ پر باشند سیمه کې هوايي بریدونه کړي او د سیمې اوسېدونکو ته یې مالي او ځاني زیانونه اړولي دي. که څه هم نوموړي په دې اړه جزیات نه دي ورکړي، خو په خبره یې، په یاده پېښه کې ۱۵ عام وګړي چې ډېری یې ماشومان وو، ځینې وژل شوي، ځینې ټپیان دي او د استوګنې درې کورونه ویجاړ شوي دي.
د بدخشان د وردوج ولسوالۍ یوه اوسېدونکي حبیب الله پژواک ته ویلي، ورمه ورځ له غرمې مخکې ۱۰ بجې نظامي الوتکو پر یاده سیمه بمبار کړی چې له امله یې د ده د کور په ګډون، د استوګنې ځینې کورونه ویجاړ شوي دي.
د پېښې یوه بل ټپي محمد ادریس د بدخشان په ولایتي روغتون کې پژواک ته ویلي چې پر درمند یې کار کاوه چې الوتکو پرې بمبار وکړ.
نوموړي چې د سر په برخه کې ټپي دی، ویلي: «یو غږ مې واورېد بې هوښه شوم، کله چې په هوښ راغلم، ومې لیدل چې په روغتون کې ډاکتران زما پر سر راټول شوي، له کورنۍ مې خبر نه یم چې څه پرې شوي دي».
بلخوا د وردوج ولسوال محمد عمر پیمان ویلي چې تر اوسه په دې اړه کره معلومات نه لري او نه غواړي په دې تړاو څرګندونې وکړي.


### د سیمې هېوادونه دې د سولې پروسې په بیا پیل کې خپل رول ادا کړي



۵ مخ


### څېره
۴ مخ

## ابي علي احمد



د نوبل بنسټ وايي، سره له دې چې د احمد د حکومت موده نه ده پوره شوې، خو هغه په خپل هېواد کې سوله راوسته، امنیت یې تأمین کړ او په دغه هېواد کې یې اوږدو جګړو او ژورو مذهبي اختلافاتو ته د پای ټکی کېښود.

## د افغانستان د قره‌قل پوستکو صادرات په ډېرېدو دي



د افغانستان د قره‌قل پوستکي اداره وايي، اسیایي هېوادونو ته د قره‌قل صادرات مخ په زیاتېدو دي.
د دې ادارې مدیر محمد عارف پرون ازادي راډیو ته وویل، دوی هڅه کوي چې اروپايي هېوادونو ته هم صادرات پیل کړي.
نوموړي زیاته کړې: «مونږ د تېر کال تر پایه منځنۍ اسیا ته ۲۹۵۸۰ جلده د قره‌قل پوستکي صادرات درلودل، خو سږ کال چې یوه ربع یې پاتې ده، مونږ ۲۴۶۷۰ جلده صادر کړي چې شاید د سږ کال صادرات د تېر کاله په پرتله نږدې پنځوس سلنه لوړ شي».
دی وايي، اوسمهال یوازې د منځنۍ اسیا هېوادونو او پنلنډ ته د افغانستان قره‌قل صادرېږي.
د افغانستان د قره‌قل د پوستکې ادارې تېر کال د دغه پوستکي د نړیوال فدراسیون غړیتوب تر لاسه کړ او اوسمهال د نړیوال غړیتوب د اصولو پوره کولو پر چارو بوخته ده.

## جان بس: امریکا از تصمیم کمیسیون از بهر شمارش تنها آرای بایومتریک پشتیبانی می‌کند



جان بس، سفیر امریکا در کابل گفته است که واشنگتن از این تصمیم کمیسیون مستقل انتخابات که تنها آرای بایومتریک قابل شمارش هستند، پشتیبانی می‌کند.
آقای بس، پس از چاشت دیروز از کمیسیون مستقل انتخابات و از روند انتقال اطلاعات دستگاه‌های شناخت بایومتریک به بانک اطلاعات این کمیسیون دیدار کرد و افزود که کشورش شفافیت را در روند اعلام نتایج انتخابات مهم می‌داند و تأکید کرد که اگر این نتایج اندکی با تأخیر هم اعلام شود، اما آرای شفاف شهروندان افغانستان مشخص شود، بهتر است.
این دیپلومات امریکایی از شمارش آرای بایومتریک شده پشتیبانی می‌کند و در این باره گفت: «ما از تصمیم کمیسیون مستقل انتخابات از بهر شمارش تنها آرای بایومتریک پشتیبانی می‌کنیم و فکر می‌کنیم که این یکی از راهکارهای مناسب برای شمارش آرا است، چون در انتخابات‌های گذشته شمارش آرای فزیکی با مشکلاتی رو به‌رو بود».
او بر استقلالیت کمیسیون‌های انتخاباتی نیز تأکید کرد.
او در این باره گفته است: «ما یک بار دیگر تعهد خود را با کمیسیون‌های انتخاباتی از استقلالیت شان اعلام می‌داریم و توانایی‌های شان را در کار به دست آوردن یک نتیجهٔ درست پشتیبانی می‌کنیم، نتیجه‌یی که خودشان به‌گونهٔ مستقلانه تصمیم بگیرند که کدام آرا باید حساب شوند و کدام آرا حساب نشوند».

Shigal English Academy
شیگل انګلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریــځ

## پر ټاکنو کمېسیون د بهرنیو ډیپلوماتانو تمرکز

په افغانستان کې د امریکا سفیر پرون ټاکنو کمېسیون ته ورغلی دی او هلته یې له کمېشنرانو او نورو کارکوونکو سره کتلي دي. د نوموړي په حواله ویل شوي چې غیر بایومتریک رایې باید ونه شمېرل شي. له دې وړاندې هم امریکایي، برېټانوي، کاناډایي، ایراني او نور ډیپلوماتان په مکرر ډول کمېسیون ته ورغلي او هلته یې ډېټاسنټر ته د رایو د لېږد بهیر کتلی، له کمېشنرانو سره یې لیدنې کړې دي او خپل نظرونه یې څرگند کړي دي. په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د سیاسي استازولۍ کارکوونکي نږدې هره ورځ کمېسیون ته ورځي او هلته نه یوازې څارنه کوي؛ بلکې په ځینو چارو کې لاسوهنه هم کوي.

د افغانستان نږدې په ټولو ټاکنو کې بهرنیانو لاسوهنه کړې دې. دا لاسوهنه کله ډېره پټه وه، خو کله هم د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۴ ز کلونو د ټاکنو په شان ښکاره او بربنډه وه. دوی تل غوښتي چې ټاکنې پر لانجې بدلې کړي او بیا یې پایلې داسې کړي چې دوی ته پکې د لاسوهنې زمینه برابره شي. په ۲۰۰۹ ز کال کې هم ټاکنې د بهرنیانو په مستقیمه لاسوهنه دویم پړاو ته ولاړې چې بیا ډاکټر عبدالله حاضر نه شو. په ۲۰۱۴ ز کال کې هم ټاکنې د بهرنیانو په لاسوهنه خرابې شوې، پایلې جنجالي شوې، د دوی مداخلې ته زمینه برابره شوه او بیا یې د ملي یووالي حکومت پر موږ واکمن کړ. اوس هم بهرنیان د خپلو گټو لپاره غواړي په ټاکنو کې لاسوهنه وکړي. که څه هم ښکاري چې ټاکنې دویم پړاو ته ځي، خو بهرنیان غواړي په ټاکنو کې دا ستونزې را پورته کړي چې نه یوازې دا چې ټاکنې دویم پړاو ته ولاړې شي، بلکې جنجالي شي او پایله یې دوی ته د مداخلې زمینه برابره کړي.

له بله اړخه د ټاکنو په کمېسیون کې هره ورځ د بهرنیو سفیرانو، ډیپلوماتانو او نورو استازو را څرگندېدل دا مانا لري، چې دوی په دې چاره کې ژوره علاقه لري، سیاسي لاسوهنه کوي او هڅه کوي چې د خلکو د رایو پر ځای دوی تصمیم ونیسي. له بده مرغه کمېسیون هم دوی ته زمینه برابروي چې بیا بیا هلته ورشي، مداخله وکړي او خپلې پرېکړې پر کمېسیون ومني. دا ښکاره سیاسي مداخله ده. دا ښیي چې موږ څومره خپلواکي لرو او بهرنیان څومره په هغو چارو کې له ښکېلتیا سره علاقه لري، چې زموږ برخلیک ټاکي. روښانه ده چې ټاکنې به دویم پړاو ته ځي. دا هغه څه دي چې بهرنیان یې هم غواړي. خو بهرنیان غواړي چې ټاکنې له لانجې سره دویم پړاو ته ولاړې شي. دوی غواړي سره له اوسه د دویم پړاو لپاره هم لانجو او گډوډیو ته زمینه برابره کړي او هغه ټاکنې له درغلیو او ستونزو ډکې کړي.

تر هغو چې موږ سیاسي خپلواکي پیدا نه کړو، تر هغو چې بهرني سفیران او ډیپلوماتان زموږ په ټاکنیزو کمېسیونو کې گرځي را گرځي، ټاکنې او د خلکو رایه مانا نه لري. له همدې امله د سیاسي خپلواکۍ لپاره باید کار وشي. د سیاسي خپلواکۍ لپاره اساسي لاره له وسله والو مخالفینو سره سوله او سیاسي جوړجاړی دی. دا جوړجاړی باید د بهرنیو ځواکونو وتلو، د سیاسي او نظامي مداخلې بندېدو او سیاسي خپلواکۍ ته لاره هواره کړي. هغه وخت به بیا ټاکنې او د خلکو رایه خپل ارزښت پیدا کړي.



# چرا ترکیه مبارزه را به سوریه منتقل کرد؟

نویسنده: مولود چاووش اوغلو
وزیر امور خارجه جمهوری ترکیه

تفسیر عملیات نظامی ترکیه در شمال شرق سوریه در مطبوعات آمریکا به صورت حمله‌ای علیه کردها، تضعیف کننده مبارزه با بقایای داعش (و یا به اصطلاح دولت اسلامی) و آسیب زننده به قابل اعتماد بودن آمریکا نزد متحدین این کشور؛ باعث تأسف است. می‌بایست سو تفاهم‌ها را برطرف کنم، زیرا اتحاد ٦٧ ساله ترکیه با آمریکا در ناتو گذرا، تاکتیکی و یا قابل بحث نیست.

ترکیه این عملیات را با هدف تأمین امنیت ملی خود از طریق از میان برداشتن خطری که تروریست‌ها در مناطق مرزی ایجاد نموده اند، آغاز کرده است. این عملیات، سوری‌هایی را که در آن مناطق زندگی می کنند، از زورگویی گروهک‌های تروریستی نجات داده و تهدید موجود بر علیه تمامیت ارضی و وحدت سیاسی سوریه را از بین خواهد برد. این دو تحول، بازگشت امن و داوطلبانه‌ی سوریه‌ای هایی را که از خانه و کاشانه خود محروم و آواره شده‌اند، تسهیل خواهد کرد.

ترکیه هیچگاه در مرزهای خود وجود کریدوری تحت کنترل یک گروهک تروریستی را نپذیرفت. ما بارها از جمله در مجمع عمومی سازمان ملل ایجاد منطقه امن را پیشنهاد کردیم. از آمریکا خواستیم تا دست از حمایت مالی تروریست‌ها بردارد.

در حالی که ماهیت غیر قابل تفکیک PYD/YPG که هسته اصلی نیروهای دموکراتیک سوریه را تشکیل می-دهند، از گروهک تروریستی PKK در ترکیه که از سوی ایالات متحده آمریکا، اتحادیه اروپا و ناتو به عنوان گروهک تروریستی شناخته شده، از سوی مقامات آمریکایی از جمله یک وزیر دفاع پذیرفته شده؛ اما بروکراسی امنیتی امریکا موفق به قطع ارتباط خود با گروهی که به اختصار PYD/YPG نامیده می‌شود، نشد.

مخاطبین آمریکایی ما چنین تظاهر کردند که گویا در مورد ضرورت خروج این نیروها از مناطق همجوار مرزهای ما قانع شده اند و ما حتی بر روی تقویم این رویداد نیز توافق کردیم. دیدارهای نظامی اخیر در ماه آگست با تعهد متقابل در مورد ایجاد یک منطقه‌امن که PYD/YPGاز آن خارج خواهند شد، به پایان رسید. لیکن ایالات متحده آمریکا نتوانست این توافق را به نتیجه برساند و در ما گمان قوی مبنی بر اینکه در حال کسب وقت برای هرچه مستحکمتر نمودن جایگاه گروهک تروریستی در سوریه می‌باشد، برانگیخت.

PYD/YPG شاید بتواند خود را به صورت گروه مبارزه کننده با داعش به جهانیان بشناسند، ولیکن در عین حال تدارک مواد منفجره برای PKK از سوی این گروهک با حفر تونل‌هایی در خاک ترکیه نیز یک واقعیت است. عناصر این گروهک محکومین داعشی آزاد شده از زندان را به سمت ترکیه هدایت کرده اند. در نوامبر ۲۰۱۷ بی بی سی خبری منتشر کرده بود مبنی بر اینکه در اثنای عملیات ائتلاف برای آزادسازی رقه، نیروهای دموکراتیک سوریه به منظور فراری دادن صدها تروریست داعش به طور پنهانی توافق کرده اند.

باید کار را شروع می کردیم. برخی در مورد امنیت جمعیت کرد- سوریه ابراز نگرانی کردند. مایلم تکرار و تأکید کنم که مبارزه ترکیه علیه کردها نمی‌باشد. مبارزه ما علیه تروریست‌هاست. القای وضعیت به صورت «ترک‌ها علیه کردها» با سوء نیت و اشتباه می‌باشد. کردها دشمن ما نیستند.

هدف ما، سازمانی تروریستی است که PKK و PYD/YPG آن را به اتفاق پیش می برند و در مناطق تحت کنترل خود کودک سربازها را مسلح کرده، مخالفین را سرکوب نموده، بافت جمعیتی را تغییر داده و به اجبار سربازگیری کرده است. کردها، اعراب، مسیحیان و سایرینی که زیر یوغ PYD/YPG رنج می کشند، هنگامی که آزادی خود را به دست آورند، در وضعیت بهتری قرار خواهند گرفت.

««شورای جهانی آرامیان»» مصراً بر این نکته تأکید دارد.

پیش از شروع این عملیات، تمامی گام ها در راستای به حداقل رساندن خطرات علیه غیر نظامیان و پیشگیری از ایجاد یک بحران انسانی را برداشتیم. طی چند سال گذشته ترکیه تعداد قابل توجهی از آوارگان شمال شرق سوریه اعم از عرب ها، کردها و ترکمن ها را پناه داده است. بسیاری از این پناهندگان شامل بیش از ۳۰۰ هزار کرد از سوی تروریست‌ها از خانه و کاشانه خود رانده شده اند. ما در ترکیه برای آنان امنیت، سرپناه و منبع درآمد فراهم کردیم. نان و خوراکمان را با آنها تقسیم کردیم و زمینه استفاده آنان را از خدمات عمومی فراهم آوردیم. ترکیه در زمینه کمک‌های انسانی سخاوتمندترین کشور در دنیا و در سطح جهانی میزبان بیشترین تعداد پناهنده می باشد.

ترکیه در سه سال اخیر الگوی قابل اعتمادی تشکیل داده است. عملیاتی که ترکیه در شمال- غرب سوریه اعم از عملیات در جرابلس و اطراف آن در سال‌های ۲۰۱٦-۲۰۱۷ و عملیات در عفرین در سال ۲۰۱۸ انجام داده است، منطقه وسیعی را از تروریست‌ها پاک کرده است. پس از این عملیات‌ها جوامعی که به سبب وجود تروریست‌ها متضرر گردیده بودند، زندگی خود را در صلح و با بهره بری از یک مدیریت منظم آغاز نمودند. ۳٦۵ هزار پناهنده به خانه هایشان در شمال- غرب سوریه بازگشته اند.

خدمات عمومی فراهم شده شامل تأسیس مدارس برای بیش از ۲۳۰ هزار دانش آموز نیز می باشد. ٦ بیمارستان دارای ۵۵ آمبولانس در مناطق آزاد شده در شمال- غرب سوریه، زمینه اشتغال بیش از دو هزار پرسنل سوریه‌ای و ترک را فراهم نموده است. تعداد بسیاری تاسیسات فرهنگی، تفریحی و تاسیسات ورزشی اعم از یک زمین فوتبال احداث گردیده است. کارگاه ها بهینه سازی شده و به منظور تسهیل تجارت یک درب مرزی باز شده است. با حمایت های مالی، کشاورزی و دامپروری آغاز شده است.

عملیات‌های قبلی ترکیه را با ویرانی هایی که ائتلاف در رقه به بار آورده است، مقایسه کنید. آنگاه مشاهده خواهید نمود که عملیات مبارزه با تروریزم را چقدر به دقت مدیریت کرده ایم. تجربه‌های کسب شده از این عملیات‌ها کمک خواهد نمود که این بار کارها را بهتر پیش ببریم.

PKK و PYD/YPG با این ادعا که بدون آنها مبارزه با داعش قدرت خود را از دست خواهد داد، از جامعه جهانی باج خواهی می کنند. لیکن مبارزه با این تروریست‌های وحشی تنها در صورتی‌که به ویژه متحدانمان تا آخر مقاومت نموده و به همکاری خود با ترکیه ادامه دهند، قدرت خود را از دست نخواهد داد. ما، تنها ملتی هستیم که خود علیه داعش وارد میدان جنگ شده است.

مبارزه با داعش و سایر گروهک‌های تروریستی با همیاری و همکاری همگان ادامه خواهد یافت. برخی از کشورهای اروپایی در خصوص صدور مجوز برای استرداد هموطنان به داعش پیوسته شان کمی بی میلی نشان داده اند. لکن، آرزوی حل مشکل نمی تواند یک سیاست باشد. آنها نیز می بایست باری را که سهم خودشان است، به دوش بکشند.

ما به عنوان ترکیه معتقدیم زمینه بازگشت پناهندگان سوری به خانه هایشان و فراهم نمودن محیطی را که داعش و سایر گروهک‌های تروریستی نتوانند مجدداً ظهور نمایند، آماده می سازیم.

بر این موضوع واقف هستیم که بازگشت پناهندگان سوری به صورت امن و داوطلبانه به خانه هایشان می بایست به دقت برنامه ریزی و مدیریت شود. این روند باید مطابق با قوانین بین المللی و با همکاری سازمان های ذیربط سازمان ملل متحد پیش برده شود. سوریه از بافت قومیتی متنوعی برخوردار است و تا زمان دستیابی بحران سوریه به یک راه حل سیاسی، لازم است مجالس محلی قابل اجراء و مبتنی بر نمایندگی تشکیل شود.

متعاقب آخرین عملیاتمان در مبارزه با تروریزم، در مناطقی که کردها در اکثریت قرار دارند، ترکیه به منظور منعکس نمودن بافت جمعیتی، تشکیل مجالس مدیریتی محلی را که اکثریت آن را کردها تشکیل می دهند، تسریع نموده است.

سوریه‌ای ها دیگر می خواهند به خانه هایشان بازگردند. بیش از حد سختی کشیدند. ما برای کمک به ایجاد شرایط صلح آمیز جهت بازگشت میلیون‌ها پناهنده به خانه هایشان ابتکار عمل انجام می دهیم.

برخلاف درک‌های اشتباه حاکم، عملیاتمان به تمرکز بر ابعاد انسانی مسئله، حفظ یکپارچگی کشور و تقویت روند سیاسی یاری خواهد نمود.

## عمران خان: په خپل ټول توان به د ایران او سعودي ترمنځ د جگړې مخنیوی وکړو



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، په خپل ټول توان به هڅه وکړو چې د سعودي عربستان او ایران ترمنځ د جگړې مخنیوی وکړو.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د سعودي عربستان او ایران ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینگلې شوې دي.

خو تازه د پاکستان لومړي وزیر ایران ته د خپل سفر پر مهال ویلي، هڅه کوي چې د تهران او ریاض ترمنځ خبرو اترو ته لار هواره کړي.

نوموړي د ایران له ولسمشر حسن روحاني او د دغه هېواد له ستر مذهبي مشر ایت الله علي خامنه‌اي سره هم جلا جلا کتلي دي.

په ورته وخت کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ورمه ورځ ناوخته وویل چې عمران خان به له ایران وروسته، سعودي عربستان ته ولاړ شي. نوموړي د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره یو ځای خبریالانو ته ویلي، تهران ته یې د سفر موخه دا ده چې د سعودي عربستان او ایران ترمنځ د کېدونکې جگړې مخنیوی وکړي.

نوموړي ویلي، د یوې جگړې د مخنیوي لپاره به له خپل ټول توان څخه گټه واخلي.

هغه د ایران ولسمشر حسن روحاني ته په خطاب کې ویلي: «له تاسو سره خبرو زه وهڅولم، زه به اوس په ډېر مثبت فکر سعودي عربستان ته ځم، موږ به د منځگړي نه، بلکې د سعودي عربستان او ایران ترمنځ په خبرو کې د اسانتیا برابروونکي په توگه رول لوبوو... د دواړو هېوادونو ترمنځ د اختلافاتو هوارول یو مشکل او پېچلی کار دی، خو زما په فکر ممکن دی».

دا په داسې حال کې ده چې د سعودي عربستان او ایران ترمنځ اړیکې له پخوا ترینگلې وې، خو د سپټمبر په ۱۴مه د سعودي د تېلو پر تاسیساتو له بریدونو وروسته، د دواړو هېوادونو ترمنځ کړکېچ نور هم زیات شو. ریاض، واشنگټن او ځینې نور لوېدیځ هېوادونه د سعودي د تېلو پر تاسیساتو په وروستیو بریدونو کې ایران ښکېل بولي، خو ایران دا تورونه رد کړي دي.

عمران خان ویلي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم ترې غوښتي چې د تهران او ریاض ترمنځ د ډیالوگ د یوې بڼې په رامنځته کېدو کې همکاري وکړي.

دغه راز کله چې تېر کال ډونالډ ټرمپ د امریکا متحده ایالتونه له ایران سره د نړۍ د شپږو پیاوړو هېوادونو له لاسلیک کړي اټومي تړونه وایستل او پر دغه هېواد یې بېرته بندیزونه ولگول، د واشنگټن او تهران ترمنځ هم ترینگلتیا زیاته شوه. د ایران ولسمشر حسن روحاني له عمران خان سره په گډه خبري غونډه کې ټینگار کړی چې د امریکا متحده ایالتونه دې بېرته له ایران سره لاسلیک کړي اټومي تړون کې شامل شي او پر تهران لگولي بندیزونه دې لرې کړي.

# ولې افغان کډوال بېرته راتګ ته زړه نه ښه کوي؟

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

IOM یا د کډوالۍ نړیوالې ادارې په خپل وروستي راپور کې ویلي، چې د روان کال له جنورۍ میاشتې راهیسې تر دې دمه، شاوخوا درې نیم لکه افغان کډوال له پاکستان او ایران څخه خپل هېواد ته یا په زور او یا په خپله خوښه ستانه شوي دي. په هېواد کې امنیتي او اقتصادي ستونزې چې د بېرته راستنېدونکو کډوالو پر وړاندې ستر سرخوږی جوړولی شي، په کوم حالت کې دي؟ آیا تر دې دمه افغان دولت په ځانګړې توګه د کډوالو اړوندو ادارو د کډوالو ستونزو هوارولو لپاره کوم کوټلي ګامونه اخیستي؟ ولې بهر میشتي افغان کډوال بېرته راستنېدو ته زړه نه ښه کوي؟ د افغان دولت په تیاریو او د کډوالو په نورو هر اړخیزو ستونزو دې تحلیل کې لیکل شوي دي.

**هېواد ته د افغان کډوالو بېرته راستنېدل**

له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته چې په افغانستان کې یو نوی نظام منځ ته راغی، له بهرنیو هېوادونو هر کال ډېر افغان کډوال هېواد ته راستانه شول او دا لړۍ کله په ډېر او کله په لږ شمېر کې تر اوسه دوام لري. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د احصایو له مخې، له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې ۹۷۲۸۶۶۳ افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي دي. د افغان کډوالو ډېری برخه په پاکستان کې مېشت وو، له پاکستان پرته ایران دویم هېواد ګڼل کېږي چې ډېری افغان کډوالو ته یې پناه ورکړې او تر دې دمه په دواړو یادو شویو هېوادونو کې لا هم ډېری افغانان د کډوالۍ شپې سبا کوي. له بهرنیو هېوادونو راستنېدونکي کډوال یا په خپله خوښه او یا په زور هېواد ته راستانه شوي دي چې نه یې غوښتل ورپېښو ستونزو ته په کتو، هېواد ته راستانه شي، خو د وخت او حالاتو مجبورۍ اړ کړل څو خپلې کډې بار او کډوالۍ ته نه وواېي.

د هغې له جملې څخه د ۲۰۱۶ ز کال په دوران کې څو میلیونه افغان کډوال ځکه له پاکستان څخه هېواد ته راوګرځېدل، چې پاکستاني پولیسو د هغوی ځورونې ته کار وواېه او په یو ډول نه یو ډول یې هغوی اړ کړل، څو جوپې جوپې افغانستان ته راستانه شي، خو موده وروسته پاکستاني چارواکو هم ویتېیله چې افغان کډوال یې د هېواد په اقتصاد کې اړینه ونډه لري، نو ځکه یې د هغوی په زور لېږلو مخه ونیوله.

له ایران څخه که څه هم د پاکستان په پرتله هلته کم افغان کډوال اوسېږي، هم په زیات شمېر کې افغان کډوال دې ته اړ شوي، څو له یاد هېواد څخه په داسې حال کې ووځي چې د ستنېدو لپاره یې هیڅ پلان نه درلود او وخت په وخت اړ شوي څو له ایران څخه افغانستان ته وګرځي. د کډوالۍ نړیوالې ادارې د وروستي راپور پر بنسټ، د روان کال په جریان کې (۳۴۸،۸۷۰) افغان کډوال له پاکستان او ایران څخه هېواد ته راستانه شوي دي، چې د هغې له جملې څخه یوازې له ایران څخه د راستنېدونکو شمېر (۳۳۲،۶۴۱) ګڼل کېږي. په دوی کې ثبت شوي او غیر ثبت شوي کډوال هم شامل دي. د کډوالۍ نړیوالې ادارې له لوري له هغوی سره ځینې لومړنۍ مرستې هم شوې دي چې د بېرته راغلو کډوالو اړتیاوې تر یو حده پرې پوره کېدلی شي.

**کډوال او د هېواد امنیتي او اقتصادي وضعیت**

اقتصاد او امنیت هغه اړینې ستونزې دي چې د بهر مېشتو افغان کډوالو د را ګرځېدو مخه یې ډب کړې ده. دا یادې شوې ستونزې د راستنېدونکو کډوالو لپاره خورا اړینې ځکه دي چې په بهر کې زیاتره اوسېدونکي کډوال د فقر او بېوزلۍ په حالت کې ژوند کوي، مګر د هېواد د اوسني بد اقتصادي وضعیت په پرتله بیا هم کولی شي په بهرنیو هېوادونو کې یو څه د امن په فضا کې ژوند وکړي او خپلو کورنیو ته د ژوند لومړۍ اړتیاوې په یو ډول پوره کړي. که د هېواد روان اقتصادي وضعیت په همدې توګه روان وي چې اصلي علت یې د امنیت نشتون ګڼل کېږي او آن په هېواد کې شته افغانان یې هېواد پرېښودو ته اړ شي، ښایي بهر مېشتي کډوال به په هیڅ ډول زړه ښه نه کړي چې هېواد ته راستانه شي. د هېواد ډېری ولایتونه چې د امنیتي ستونزو له سترو ګواښونو سره مخ دي او د یادو سیمو اوسېدونکي یې داخلي کډوالۍ ته اړ کړي، هم د هېواد پر روان کمزوري اقتصاد ستر بوج اچولی او په دې توګه د بېکارۍ کچې ګراف هم لوړ شوی، چې افغان کډوال یاد ګراف ته په کتو، په هیڅ ډول نه غواړي چې د خپلو اولادونو راتلونکې له یو نامعلوم برخلیک سره مخ کړي. په تقریبي ډول د امنیت نشتون بله هغه ستونزه ده چې کډوال یې له وېرې سره مخ کړي دي او کډوال نه غواړي خپل ژوند په خطر کې واچوي. که چېرته افغان دولت او چارواکي د رښتیني امنیت او سولې په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي، نو افغان کډوال چې په بهرنیو هېوادونو لکه پاکستان کې چې زړه ماتي او وېرېدونکې پانګونې کوي، کولی شي خپلې پانګې او سرمایې هېواد ته را انتقال کړي چې د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره به خورا ډېر اړین ګام واخیستل شي.

**د داخلي او بهرنیو اړوندو ادارو تیارۍ او ژمنې**

که څه هم هېواد ته له راستنېدونکو کډوالو سره د ځینو اړوندو ادارو لکه د کډوالۍ نړیوالې ادارې، یو این ایچ سي آر، افغان کډوالو وزارت او ځینو خیریه بنسټونو او هېوادونو له لوري وخت په وخت مرستې تر سره شوې دي، خو د کډوالو اقتصادي وضعیت، امنیت، مېشتېدنې او نورو اړتیاوو ته په کتو، اړوندې ادارې اړ دي څو د کډوالو لپاره خپلې پاملرنې او مرستې نورې هم زیاتې کړي.

په لومړیو کې افغان دولت له کډوالو سره ژمنې کړې وې، چې راستنېدونکو کډوالو ته به د مېشت کېدو لپاره یوه یوه نمره ځمکه ورکوي، که څه هم په ځینو ولایتونو او سیمو کې یاد کار تر سره شو، خو لیدل کېږي چې یا خو کډوال یادو سیمو ته د کاري بوختیاوو نشتون او یا د امنیتي ګواښونو د شتون په وجه زړه نه ښه کوي او نه غواړي چې هلته مېشت شي. خو هغه ځایونه چې امنیت یې په نسبي توګه یو څه ښه وي، یا د ځمکو د غصب په وجه او یا د دولت د بې غورۍ له وجې، کډوال نه دي توانېدلي څو د اوسېدو لپاره ځمکه تر لاسه کړي او په دې توګه په خپل هېواد کې لالهانده او د کډوالۍ ژوند تېروي. دې کار بیا هغه کډوال چې په بهرنیو هېوادونو په ځانګړې توګه په پاکستان او ایران کې ژوند کوي، هڅولي څو خپلې کډوالۍ ته هلته ادامه ور کړي او د راغلیو کډوالو د ترخو تجربو ښکار نه شي.

د ملي یووالي حکومت تر رامنځ ته کېدو وړاندې، ولسمشر محمد اشرف غني په خپلو ټاکنیزو کمپاینونو کې په وار وار هېواد د کډوالو له راستنېدو پرته نیمګړی ګڼلی و او له راستنېدونکو کډوالو سره یې د زیاتو مرستو ژمنې هم وکړې، خو په تېرو پنځو کلونو کې ولیدل شول چې شوې ژمنې پوره نه شوې او د راپورونو پر بنسټ، راغلي کډوال بیا ځلي کډوالۍ ته اړ شول چې د جنوبي ولایتونو له لارې د کویټې او چمن سیمو پر لور رهي او پاکستان ته واوښتل. که چېرته وګورو، تر ۲۰۱۶ ز کال وروسته، د افغانستان د کډوالو چارو وزارت او پاکستاني لوري ترمنځ د هغو افغان کډوالو په اړه یو تفاهم شوی و، چې راجستر او ثبت شوي نه وو، څو هغوی راجستر شي او هلته د ژوند تېرولو لپاره قانوني اسناد تر لاسه کړي. دا کار د راستنېدونکو کډوالو په اړه د دولت پالیسي تر پوښتنې لاندې راوستې چې ځواب یې تر اوسه خاموشي ښودل کېږي. بله دا چې افغان دولت د کډوالو راستنېدو ته هېڅ تیارۍ نه لري او هغه ژمنې چې د ټاکنیزو کمپاینونو په وخت مختلفو لوریو کولې، یوازې تر وعدو پورې پاتې شوې. بلخوا د اوسنیو ټاکنیزو کمپاینونو په دوران کې هم د کډوالو ستونزې له پامه وغورځول شوې او لیدل کېږي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به هم د کډوالو ستونزو او راستنېدو ته کومه ځانګړې برنامه او پروګرام نه وي.

**پایله**

د یو این ایچ سي آر راپورونو پر بنسټ، تر دې دمه یوازې ۱.۴ میلیونه راجستر شوي افغان کډوال په پاکستان او همدارنګه دقیقه شمېره په ایران کې د کډوالۍ شپې ورځې تېروي. که چېرته افغان دولت د هغوی د راستنېدو لپاره لنډمهالې او اوږدمهالې پالیسۍ ولري او د یو پلان له مخې هغوی وهڅوي څو هېواد ته راستانه شي، نو دا کار کولی شي د هېواد په پرمختګ کې ښه ونډه ولري، ځکه د کډوالو په منځ کې لوړ استعدادونه، پانګه وال او داسې تعلیم یافته خلک شته چې د هېواد هر اړخیز وضعیت ته مثبت بدلون ورکولی شي. د دې کار لپاره افغان دولت باید نړیوالې ادارې هم وهڅوي او د هغو له لسیزو تجربو څخه ګټه واخلي. د هغوی تر سره شوې مرستې د بهرنیو هېوادونو پر ځای، په خپل هېواد کې په داخلي او راستنېدونکو کډوالو په مناسب او ښه ډول ولګوي. نور پرې نږدې چې د افغانستان ګاونډیان له افغان کډوالو څخه د یوې وسیلې په توګه کار واخلي او یا هم پر افغانستان خپلې ناروا غوښتنې د کډوالو له ادرسه پلې کړي.

# ولسمشریزې ټاکنې؛

## د رایې ورکوونکو شمېر له دوو میلیونو هم کم شوی دی



د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي، مرکزي سرور ته د معلوماتو د لېږد په پروسه کې ټولې ستونزې ختمې شوې دي او د دوی کارونه په چټکۍ سره مخ ته روان دي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړو پرون په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې د نږدې ۸۵ سلنه مرکزونو رایې مرکزي سرور ته لېږدول شوې دي او د پاتې نورو رایو پر لېږد هم کار روان دی. د کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ وویل چې ټولې ستونزې حل شوې دي او په کارونو کې اړین چټکوالی رامنځ ته شوی دی.

سره له دې چې د ټاکنو په کمېسیون کې د کارونو پر ځنډ نیوکې موجودې دي، خو تازه دغه کمېسیون وایي چې چارې یې په ښه توګه پر مخ ځي. د ټاکنو کمېسیون اعلان کړی چې د دې کمېسیون مرکزي سرور ته د ۲۲ زرو او ۵۸۸ ټاکنیزو محلونو د رایو په لېږدولو کې معلومه شوې چې په ولسمشریزو ټاکنو کې شاوخوا یو میلیون او ۷۰۳ زره او ۷۷۳ بایومټریک شوې رایې کارېدلې دي. د ټاکنو کمېسیون تر دې وړاندې ویلي وو چې په ۶۸۴ ټاکنیزو محلونو کې دوه میلیونه ۶۹۵ زره او ۸۹۰ رایې اچول شوې وې.

د ټاکنو کمېسیون مشره حوا علم نورستانۍ وایي، تر اوسه د څه باندې یو میلیون رایه اچوونکو ټول معلومات مرکزي سیستم ته لېږدول شوي دي. د ټاکنو کمېسیون غړې رحیمه ظریفي وایي، له څه باندې ۲۲ زرو ټاکنیزو محلونو شاوخوا ۱،۷ میلیونه بایومټریک شوې رایې د ټاکنو کمېسیون مرکزي سرور ته لېږدول شوې دي. نوموړې زیاتوي، ۳۹۰۰ محلونه پاتې دي چې رایې یې تر اوسه مرکزي سرور ته نه دي لېږدول شوې.

د ټاکنو کمېسیون داسې مهال په کارونو کې د چټکوالي خبره کوي، چې تېره ورځ ځینو کمېشنرانو د لومړنیو پایلو د اعلان له ځنډه خبر ورکړی و. د ټاکنو کمېسیون یوه کمېشنر مولانا عبدالله ویلي وو، چې د رایو په شمېرنه کې د ځنډ او دغه راز د شفافیت لپاره ښایي د لومړنیو پایلو په اعلان کې ځنډ راشي. تېره ورځ ځینو نورو غړو هم د لومړنیو پایلو په اعلان کې د ځنډ راتګ تایید کړی، خو وایي چې ښایي دا ځنډ دوې یا درې ورځې وي.

د ټاکنو کمېسیون غړی مولانا محمد عبدالله پرون په خبري غونډه کې وویل، چې دوی د ټاکنو د شفافیت تضمین کوي او اجازه نه ورکوي چې شفافیت تر پوښتنې لاندې راشي. د ده په خبره، په ټول افغانستان کې له څه باندې ۲۹ زرو ټاکنیزو محلونو څخه شاوخوا ۳۰۰۰ محلونه تړلي اعلان شوي وو. هغه زیاته کړې، وروسته له دې چې ټول معلومات مرکزي سرور ته ولېږدول شي، نو دا به ثابته شي چې څومره محلونه پرانیستي وو او په څومره کې رایې کارېدلې دي. هغه وایي، پاکې او تقلبي رایې د بایومټریک د الو او د نوماندانو د رایو کچه د پایلو د جدول پر بنسټ جوتېږي. د ده په خبره، د ټاکنو کمېسیون په بایومټریک کې ثبت شوې رایې د پایلو له جدول سره پرتله کوي او له دې لارې سمې او ناسمې رایې ښکاره کېږي.

ټاکنو کمېسیون ټینګار کړی چې یوازې بایومټریک رایې ورته د منلو وړ دي او له دې پرېکړې یې ملګرو ملتونو یو ځل بیا ملاتړ کړی دی. یوناما په تازه څرګندونو کې ویلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون شفافیت ته ژمن دی او د بایومټریک رایو په اړه د دغه کمېسیون د پرېکړې هرکلی کوي. یوناما ویلي وو، چې ټاکنیز کمېسیونونه د ملګرو ملتونو بشپړ ملاتړ له ځان سره لري او کاندیدان هم اړ دي چې د دوی پرېکړو ته درناوی وکړي. تر دې وړاندې اروپایي ټولنې او ځینو نورو مرستندویه هېوادونو هم د کمېسیون له پرېکړو د ملاتړ اعلان کړی و او پر نوماندانو یې غږ کړی چې د دغو کمېسیونونو پرېکړو ته درناوی ولري.

# محب: وکیلان دې د قانون په پلي کېدو کې مرسته وکړي



د ملي امنیت سلاکار ډاکتر حمدالله محب ویلي چې د پارلمان غړي د ولس استازي او د قانون جوړوونکي دي، دوی تر بل هر چا د قانون پر ارزښت ښه پوهېږي او په عملي کېدو کې یې دې مرسته وکړي. د ملي امنیت شورا لهخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې حمدالله محب د ولسي جرګې د ځینو غړو او پولیسو ترمنځ د رامنځته شوې وروستۍ لانجې په اړه له ځینو وکیلانو او د کورنیو چارو وزارت له رهبرۍ سره کتلي دي. سرچینې زیاته کړې، په دې کتنه کې د ملي امنیت سلاکار ټینګار کړی چې هېڅوک د چا د سپکاوي حق نه لري او پولیس مکلف دي چې قانون پر ټولو یو ډول پلي کړي. مُحب د کورنیو چارو له وزیر او ستر امنیتي مرستیال سره په کتنه کې له هغوی غوښتي، څو امنیتي منسوبین دغه ټکي ته متوجه کړي چې د ستونزې د ایجاد پر مهال له نرمښت او سم چلنده کار واخلي. په خبرپاڼه کې راغلي، د ولسي جرګې غړو د رامنځته شوې ستونزې ترڅنګ، ځینو نورو موضوعاتو ته هم اشاره کړې چې په امنیتي او اجرایوي برخو کې د وکیلانو په اړه موجودې دي. دوی د خپلو موټرو ګرځولو، وسلو او ساتونکو په اړه ځینې وړاندیزونه شریک کړي چې د ملي امنیت سلاکار لهخوا یې په اړه له قانوني اجرااتو ډاډ ورکړل شوی دی. سرچینې زیاته کړې، په دې اړه یو پلاوی هم ټاکل شوی چې د جرګې له اداري پلاوي سره د یادو ستونزو د حل په اړه ګډ کار وکړي. د یادونې ده چې درې شپې مخکې د کابل د څرخي پله په سیمه کې د پولیسو لهخوا د وکیلانو د موټرو د تلاشۍ پر مهال، شخړه رامنځته شوې وه.

له یادې شخړې وروسته د شپې یوولس بجې د ولسي جرګې ۶۱ وکیلانو بېړنۍ غونډه ونیوه او د کورنیو چارو وزیر یې احضار کړ.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### پنځم څپرکی
### له منځه تلونکي قومونه




په ۲۰۰۹ز کال مولوي نور جمال چې په ملا طوفان هم مشهور و، په اورکزي کې د پاکستاني طالبانو د تحریک مشر شو. په ۲۰۱۰ز کال هغه ته د حکمت الله محسود پر ځای د عام مشرتابه په سترگه کتل کېدل. هغه څو کاله پرلپسې د پاړاچنار مخه ډب کړې وه.
د ۲۰۱۰ز کال په پسرلي او اوړي کې پاکستاني پوځ ادعا وکړه چې اورکزي سیمه یې په بشپړه توگه له افراطیانو پاکه کړه. ځایي خلکو بیا دا ادعا رد کړې وه، ویل یې دا ځای لا هم د پاکستاني طالبانو د تحریک د مشرانو پټنځای و. د لوېدیځ پاکستان په څېر په اورکزیو کې هم امنیت کمزوری و. په ۲۰۱۳ز کال راپور خپور شو چې نور جمال په خیبر ولسوالۍ کې هم فعالیت پیل کړی و.
ډله ییزه جزا
د پاکستان په فاټا کې روان وحشت ته د نړۍ خلک له یوې وړې کړۍ گوري چې گڼي دا هرڅه د ترهگرۍ پر وړاندې جگړه ده، دې جگړې ته واشنگټن هغه مهال دا نوم ورکړ چې د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر پر ۱۱مه یې پر خاوره بریدونه وشول. فاټا په سویلي اسیا کې د برېټانوي راج له څواک څخه پاتې شوه چې اوس په غیر رسمي توگه د پاکستان اداري، اقتصادي او سیاسي برخه گڼل کېږي.
فاټا ۲۷۰۰۰ مربع کیلومتره مساحت او له افغانستان سره ٦۰۰ کیلومتره پوله لري. فاټا له «بلجیم» څخه لږ وړه ده. فاټا په اوو ایجنسیو وېشل شوې چې له شمال څخه تر سویل پورې پکې؛ باجوړ، مومند، خیبر، اورکزی، کورمه، شمالي او جنوبي وزیرستان شامل دي. په فاټا کې ځینې سرحدي سیمې هم راځي چې پېښور، کوهاټ، اسماعیل خان دېره، بنو، لکي مروت او ټانک سیمې پکې شاملې دي. د ۱۹۹۸ز کال د شمېرو له مخې، د فاټا نفوس ۳.۱ میلیون وگړي وو. د اوسنیو غیر رسمي شمېرو له مخې دا سیمه اوس (۷) میلیونه نفوس لري. له ټول نفوس څخه یې ۹۹ سلنه پښتانه دي. د فاټا ډېرې قومونه ډیورنډ ته نږدې پراته دي. دې سیمې ته د خپلواکو خبریالانو او پوهانو تگ خورا ستونزمن دی، په ځانگړي توگه دا چاره له ۲۰۰۴ز کال څخه لا هم سخته شوه. په نړیواله کچه هر څوک د دې سیمې په اړه د برېټانوي مستعمرې د وخت معلومات لولي چې قومونه یې ټول سخت زړي معرفي کړي. لسیزې وروسته په ځانگړي توگه د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر له ۱۱مې وروسته دې سیمې ته څېړونکي د سیمه ییز او نړیوال امنیت لپاره د یوه گواښ په سترگه گوري، خو شنونکو د دې سیمې تاریخ ته کمه پاملرنه کړې چې دلته د حکومتي پېچلي سېستم په ترځ کې جگړې زېږول شوې دي. فاټا کې اغېزناکې حکومتولۍ ته پاملرنه نه ده شوې، دا سیمه هر کله څنگ ته پاتې شوې. د پاکستان د ۱۹۷۳ز کال د اساسي قانون له مخې، ولسمشر حق لري چې د خپل اجرایوي صلاحیت پر بنسټ، په فاټا کې هر ډول پالیسي چې یې خوښه وي، پلې کړي، خو په عمل کې د خیبر پښتونخوا والي د ولسمشر د استازي په توگه هرڅه خپله مخ ته وړي. د دې سیمې خلک د تقنیني ارگان په دواړو مجلسونو کې غړي لري، خو پارلمان د دې سیمې لپاره د قوانینو په وضع کولو کې هېڅ رول نه لري. پارلمان کې یوازې د خیبر پښتونخوا استازیتوب کېږي چې د دې سیمو درېیو اړخونو ته پرته ده. ولایتي ټاکل شوی حکومت هم د فاټا د ستونزو په حل کې رول نه لري. له لسیزو ورته اداري پېچلي سېستم د دې سیمو قومونه له سیاسي گډون او اقتصادي پیاوړتیا څخه بې برخې کړي. د محدودیتونو په سبب سیاسي گوندونه، مرستندویه بنسټونه او مدني ټولنې په فاټا کې هېڅ ډول فعالیت نشي کولای. افراطي ملایان ازاد دي، هرڅه چې کوي، کولای یې شي. د بالغو وگړو د حقونو په مسئله کې هغوی په ۱۹۹٦ز کال تر ټولو لوړې رایې وگټلې.
په ۲۰۰٦ز کال اسلاماباد د فاټا د اداره کولو ادارې ته د (فاټا د ملکي سکرتریت) نوم ورکړ. دا اداره یوازې د روغتیا، پوهنې، کرنې او اړیکو چارې پر مخ وړي. د دې ادارې مامورین خپلې پالیسۍ د خیبر پښتونخوا له والي او د صوبو او سرحدي سیمو له فدرالي وزارت سره همغږې کوي. په ۲۰۰٦ز کال د ولسمشر د فرمان له مخې د فاټا د پرمختیایي چارو خپلواکه اداره پرانیستل شوه. د دې ډول بنسټونو ایجاد یوازې د پاکستان د بیروکراسۍ یوه برخه وه، خو د فاټا لپاره یې د اغېزناکې حکومتولۍ په برخه کې هېڅ تاثر نه لاره.
په وړه کړۍ کې د حکومت سیاسي استازی هره ایجنسي کې ټولې چارې مخ ته وړي. د اوسني حکومتي جوړښت له مخې، سیاسي استازی، قضایي، د قانون پلي کول او د اقتصادي مدیریت چارې پرمخ وړي. سیاسي استازی د قاضي، د قضا د پلاوي، څارنوال، د پولیسو مشر او د محبس د مشر په توگه دندې مخ ته وړي. هغه اقتصادي چارې څاري، د روغتیا، پوهنې او کرنې چارې هم مدیریت کوي. سیاسي استازی له سوداگریو او ټرانسپورټ مالیه اخلي، خو د دې مالیې پر ټولولو او لگولو هېڅ ډول څار نشته. سیاسي استازی د قومي چارو په تنظیم کې هم صلاحیتونه لري. هغوی کولای شي، د جرگو له لارې مدني او جزایي قضیې حل کړي. هغه د سیاسي چارو د پرمخ وړلو لپاره ځایي مخورو ته د ملگرتیا او وفادارۍ په سبب امتیازات هم ورکوي. تر هغه وړاندې چې په دې سیمو کې د افراطیت څپې خپرې شي، سیاسي استازي شاهانه اختیارات خپل کړي وو. اکثرو کسانو به د دې څوکیو لپاره سیاستوالو ته رشوتونه ورکول. **دوام لري...**

# ابي علي احمد

شفیق امیرزی



د ۲۰۱۹ ز کال لپاره د سولې د نوبل جایزه د ایتوپیا لومړي وزیر ابي احمد ته ورکړل شوې ده. ایتوپیا تېر کال له اریتېریا سره د پولې پر سر له هغې شل کلنې جگړې وروسته روغه جوړه وکړه، چې په ۱۹۹۸ ز کال کې پیل شوې وه. په اوسلو کې د نوموړي نوم د سولې د نوبل سلمې جایزې گټونکي په توگه اعلان شو او په ډسمبر میاشت کې به نوموړي ته په همدې ښار کې جایزه رسماً ورکړل شي. دغه جایزه نهه میلیونه سویډني کرونه یا نهه لکه ډالره مالي ارزښت لري. دغې معتبرې جایزې ته د ۲۲۳ کسانو او ۷۸ سازمانونو په گډون، ټولټال ۳۰۱ کاندیدان نوماند شوي وو.
له اعلانه مخکې، د ډېرو نوماندانو په هکله گومان کېده چې دغه جایزه به تر لاسه کړي، چې د چاپېریال ساتنې فعالې گرېټا تهونبیرگ نوم پکې ډېر یادیده. د نوبل کمېټې د اصولو له مخې، تر پنځوسو کلونو پورې د هغو کسانو نومونه نه خپرېږي چې کوچنۍ لېست ته رسېدلي یا شارټ لېسټ شوي وي.
د ۲۰۱۸ ز کال په اپریل کې لومړي وزارت ته له رسېدو وروسته، ښاغلي احمد په خپل هېواد کې داسې پراخ ازادانه اصلاحات راوستل چې دغه په سخت کنټرولېدونکي هېواد کې یې خوځښت رامنځته کړ. نوموړي د اپوزیسیون زرگونه نیول شوي فعالان له زندانونو خوشي کړل او تبعید شویو مخالفانو ته یې اجازه ورکړه چې هېواد ته ستانه شي. دغه راز یې له خپل گاونډي هېواد اریټریا سره د سولې هوکړه لاسلیک کړه، چې ورسره دوې لسیزې اوږده جگړه پای ته ورسېده.
ابي احمد د ۱۹۷٦ز کال د اگست په پنځلسمه د ایتوپیا د کافا د تاریخي ښار په اوسنۍ اورومیه نومې سیمه کې زیږېدلی دی. د هغه پلار احمد علي نومېده چې د اورومیې له مسلمانانو و. پلار یې څلور ودونه کړي وو. مور یې ارتودکس عیسوۍ وه. دی د خپل پلار دیارلسم اولاد و. دا چې پلار یې څلور ودونه کړي وو، نو په دې توگه د خپلې مور تر ټولو کوچنی یانې شپږم اولاد و. په ماشومتوب کې یې ابي نوم ورباندې کېښود چې د انقلاب په مانا دی.
احمد د ماشومتوب دوره د خپلې کورنۍ په غېږ کې تېره کړه او لومړنیو زده کړو ته یې ملا وتړله. کورنۍ یې هغه سیمه ییز ښوونځي ته ولېږه او بیا یې خپلې متوسطه زده کړې د اگارو ښار په ښوونځیو کې بشپړې کړې. هغه له زده کړو سره بې ساري مینه لرله. تل به یې وخت په مطالعه او زده کړو تېراوه او نور به یې هم دې ته هڅول چې زده کړې وکړي او خپله تحصیلي سویه لوړه کړي.
د زده کړو پر مهال ابي احمد د ایتوپیا په پوځ کې دنده او فعالیت هم پیل کړ. له دې سره یې هممهاله خپل لېسانس هم بشپړ کړ. ده خپل لېسانس د کمپیوټر انجنیرۍ په برخه کې تکمیل کړی دی.
ابي په ۲۰۱۱ ز کال کې د رهبرۍ په برخه کې خپله ماسټري بشپړه کړه. احمد له کار سره همهاله خپله دوکتورا هم پیل کړې وه. څو کاله یې د دوکتورا د محصل په توگه تېر کړل. هغه په ۲۰۱۷ ز کال کې پر دې بریالی شو چې له خپلې دوکتورا دفاع وکړي. د نوموړي د دوکتورا موضوع هم دا وه چې څنگه وکړی شي د ټولنیزو پانگو په مرسته په ایتوپیا کې دودیز اختلافات له منځه یوسي. نوموړي د دوکتورا پر مهال په ایتوپیا کې د ډېرو ستونزو د حل لپاره تحقیقي مقالې لیکلې دي او موخه یې دا وه چې وکړی شي په دغه جگړه ځپلي هېواد کې د تل لپاره د سولې او ثبات لاره پرانیزي.
احمد لا پوځي دنده تر سره کوله چې له زیناش نومې نجلۍ سره معرفي شو او له هغې سره یې واده وکړ. دوی دواړه د دریو اولادونو څښتن شوي دي او مېرمنې یې هم له ده سره یو ځای د پوځ په استخباراتي برخه کې دنده تر سره کوله. ابي احمد پر څو محلي او نړیوالو ژبو پوهېږي. پر انگلیسي ژبه رواني خبرې کوي. سپورټ یې خوښېږي او په خبره یې جسمي سلامتیا د رواني او مغزي سلامتیا په مانا ده.
مخکې مو هم وویل چې احمد خپله لومړنۍ دنده په نظامي برخه کې پیل کړې ده. دی لا زلمکی و چې د ایتوپیا د وسله والو په لیکو کې یې فعالیت پیل کړ. کله یې چې په ۱۹۹۱ ز کال کې مشر ورور په جگړو کې ووژل شو، نو دی دې دندې ته راغی. د مارکسیستي نظام پر ضد جگړو کې یې ونډه لرله او په پوځ کې د دوی د گوند کسان کم وو، نو په چټکۍ سره اړ شو چې له نورو پوځیانو سره په خبره د پوهېدو لپاره تیاگرینیایي ژبه زده کړي. په همدې سره په پوځ کې مخ ته لاړ او په خپله دنده کې بریالی و. د کمونیستي رژیم تر سقوط وروسته یې په ویسټ والگا کې د نظامي زده کړو لپاره څه وخت تېر کړ. له دې سره همهاله یې دنده د پوځ د اطلاعاتو او ارتباطاتو په برخه کې وه. په ۱۹۹۵ ز کال کې چې کله وسله والو د رواندا ټبر نسل وژنه وکړه، نو د ملگرو ملتونو سوله ساتو ځواکونو احمد د خپل قومندان او غړي په توگه په رواندا کې وگوماره. وروسته بشاشه ښار ته لېږل کېږي او هلته یې مسوولیت دا وي چې د یوه پوځي افسر په توگه د مسلمانانو او عیسویانو ترمنځ رامنځ ته شوي تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدي. په ۲۰۰۸ ز کال کې د ایتوپیا د استخباراتي او اطلاعاتي مرکز په جوړولو لاس پورې کوي. دی پوره دوه کاله د دې ستر مرکز مشر و او لسگونو کسانو کار ورسره کاوه. دا په اصل کې له څو مهمو دولتي ادارو جوړ شوی مرکز و چې د اطلاعاتو او ارتباطاتو د تنظیم او اغېزناک کولو لپاره یې مهم فعالیتونه تر سره کړي دي. وروسته یې له دې دندې استعفا ورکړه او سیاست ته یې مخه کړه.
کله چې احمد سیاست ته مخه کړه، نو بېرته یې د ارومو د گوند د غړي په حیث فعالیت پیل کړ. دغه گوند په ارومیه کې فعالیت درلود او اوسمهال یې ابي احمد مشري کوي.
د ۲۰۱۰ ز کال په ټاکنو کې احمد د اگارو د خلکو د استازي په توگه رایې وگټلې. ابي چې کله د پارلمان غړی کېږي، د ایتوپیا په ځینو ښارونو کې د بېلو مذهبي ډلو ترمنځ سختې خونړۍ شخړې او اختلافونه روان وي. دی په لومړي اقدام کې هڅه کوي چې دغو اختلافونو ته د پای ټکی کېږدي. احمد د ټولو مذهبي ډلو له مشرانو سره گوري او دوی په خپلو کې د یو بل پالنې او سولې ته رابولي. وروسته دی د (د سولې لپاره مذهبي اجماع) په نوم حرکت پیلوي چې مهم مذهبي مشران پکې ونډه لري. دی هڅه کوي چې په سیمه کې د مسلمانانو او مسیحیانو ترمنځ اختلافات ختم کړي او په دې توگه دلته د وژنو او ورانیو مخه ډب کړي. په ۲۰۱۵ زکال کې د خپل گوند د اجرایه مشر په توگه گومارل کېږي او په همدې موده کې بیا ځلې د پارلمان غړیتوب ته ځان نوماندوي.
په ۲۰۱۵ ز کال کې چې کله د ځمکو غاصبینو د ادیسه بابا شاوخوا د ځمکو غصب پیل کړ، نو احمد یې پر وړاندې ودرېد. همدې مسئلې د ابي احمد سیاسي شخصیت خورا مشهور او پیاوړی کړ. په ۲۰۱٦ ز کال کې د ځمکو د غصب لړۍ ودرېده، خو له دې امله رامنځ ته شوو تاوتریخوالو تر یوې مودې ادامه لرله. احمد په ۲۰۱٦ ز کال کې د ایتوپیا د ټکنالوژۍ د وزیر په توگه وگومارل شو. په همدې وخت کې یې د ایتوپیا د اقتصادي ودې لپاره پلانونه جوړول. له خپلو خلکو سره یې له نږدې اړیکې پاللې، د دوی اړتیاوې او وړتیاوې یې په گوته کولې. هڅه یې دا وه چې له ځواني انرژۍ د کار او زیار لپاره گټه واخلي او د دغه هېواد شړېدلی اقصاد پر پښو ودروي.
په ۲۰۱۷ ز کال کې یې بیا د حکومت له لوري رسماً ماموریت تر لاسه کړ، چې په ارومیه او نورو ښارونو کې مذهبي اختلافاتو ته د پای ټکی کېږدي. په دې موده کې یې پراخ نفوذ پیدا کړ او د بېلو ډلو ترمنځ د اختلافاتو د حل له امله محبوب شخصیت شو.
په ۲۰۱۸ ز کال کې په ایتوپیا کې ټاکنې تر سره کېدې او ابي احمد هم د نوماندانو له ډلې و. تر ناندریزو ټاکنو او کشمکشونو وروسته د ده گوند بریالی کېږي او پارلمان د ۲۰۱۸ ز کال د اپریل په ۲مه د باور رایه ورکوي. په دې توگه نو دی د ایتوپیا لومړي وزارت ته رسېږي او په همغه ورځ په پارلمان کې د پراخو اصلاحاتو د راوستو ژمنه کوي. دی وایي چې په ایتوپیا کې به یووالي ته کار کوي، اختلافونه به ختموي، د فساد جرړې به وچوي، اقتصادي وده به رامنځ ته کوي، له ایرتیریا سره به مرزي ستونزې حل کوي او د خپل هېواد کورنیو او بهرنیو سیاسي مخالفتونو ته به د پای ټکی اېږدي. د لومړي وزیر دې ژمنو خلکو ته سترې هیلې پیدا کړې او د ایتوپیا ټول ولس د هغه وینا په چکچکو بدرگه کوله. احمد وروسته په کمه موده کې خپله هره یوه ژمنه عملي کړه. سره له دې چې د ولسمشرۍ موده یې تر اوسه نه ده پوره شوې، خو هغه بریالی شوی چې د خپل هېواد لپاره اساسي او خورا مهم کارونه وکړي.
د ښې حکومتولۍ او سالم نظام لپاره د احمد لومړنی کار دا و، چې زرگونه بندیان یې له بنده خوشي کړل. دغه کسان تر ډېره په دغه هېواد کې د اوږدو سیاسي اختلافونو پر مهال نیول شوي وو. تر دې وروسته یې په گوندي برخه کې اصلاحات راوستل. د ولسواکۍ د بشپړ تامین ژمنه یې پوره کړه او په ټاکنیزو سیستمونو کې د اصلاحاتو راوستو پر مټ یې ښې راتلونکې ته لار پرانیسته. د اساسي قانون لپاره یې ټولپوښتنه وکړه او د ټولو په خوښه یې د اصلاحاتو راوستل پیل کړل. د ایتوپیا د بهرنیو اړیکو د جوړولو لپاره ابي احمد هڅې پیل کړې. سعودي عربستان، مصر او نورو هېوادونو ته لاړ او له دوی سره یې خپل اختلافات پای ته ورسول.
د خپل واک په لومړیو میاشتو کې یې ژر تر ژره له ایریتیریا سره خبرې پیل کړې چې د پولې مسئله د تل لپاره ختمه کړي. دوی بریالي شول چې تر اوږدو مذاکراتو وروسته، د کلونو اختلافات ختم کړي او د پولې پر سر رامنځ ته شوې ستونزه له جگړو پرته، د خبرو پر مټ حل کړي. هغه په امنیتي برخه کې پراخه تجربه لرله، نو له خپلې تجربې په استفادې بریالی شو چې د ایتوپیا د پوځ او امنیت په مهمو ادارو کې پراخ اصلاحات راولي او په دغه هېواد کې د قوي امنیت له راتگ سره مرسته وکړي. ابي احمد وکړی شول چې خپل هېواد د پرمختگ او ودې لارې ته برابر کړي.
له همدې امله د نوبل نړیوال بنسټ هغه د نوبل جایزې گټونکی وباله. د نوبل بنسټ وایي، احمد په خپل هېواد ک پراخ اقتصادي پرمختگونه رامنځ ته کړي. سره له دې چې د هغه د حکومت موده نه ده پوره شوې، خو هغه په خپل هېواد کې سوله راوسته، امنیت یې تامین کړ او په دغه هېواد کې یې اوږدو جگړو او ژورو مذهبي اختلافاتو ته پای ټکی کېښود.

همیانۍ

# نه پوهېږم له څه سره مینه لرم او کوم کار وکړم؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»



هرڅه چې راپېښ شوي، له خپله لاسه مې دي. نه پوهېږم له څه سره مینه لرم؟ اصلاً داسې احساس کوم چې زه له هېڅ شي سره مینه نه لرم. شپې او ورځې همداسې بې موخې تېروم، بیخي گېچ پاتې شوی یم چې څه وکړم؟

تاسې ټولو درنو لوستونکو ته سلام! هیله ده ټول ښه وی.

کولای شم تر یوه حده ستاسې احساسات درک کړم. ډېرو کسانو ستاسې په څېر همدا حس تجربه کړی، خو ځینو لږ ډېر او ځینو بیا یو څه کم. چا یوه میاشت، چا یو کال او ځینو خو بیا ان کلونه کلونه دا حس تجربه کړی.

خو یوه خبره مې واورئ، تاسې خپل ځان پر دې مه ښکنځئ چې یوازې تاسې د ځان په اړه داسې فکر لری. غواړم تاسې له خپلو تجربو او د نورو له لیدلو حالاتو چې کولای شي تاسې ته دا حس درکړي چې تاسې له ډېر څه سره مینه او علاقه لری، یوڅه یادونه وکړم.

**له دې اظهار وېره چې له څه سره مینه لرم**

لومړی هغه دلیل چې تاسې یې سرگردان کړي یاست او اوس داسې حس کوی چې تاسې له هېڅ شي سره هم مینه نه لری، هغه دا دی چې تاسې ان له اوله د مینې او علاقې په مانا نه یی پوهېدلي. کله چې یو څوک وایي چې له فلاني شي سره مینه لرم، تر ډېره دا کېدای شي داسې یو احساس وي چې د خپلې مینې او علاقې د اثبات لپاره یې پوره دلایل هم ونه لري. کېدای شي هغه څه د بل په لاس کې ښه ورته ښکاره شوي وي، کېدای شي یوازې یې د هغه ظاهر ته پام کړی وي او یا هم کېدای شي د هغه کار او یا شي په اړه له اورېدلو خبرو متاثیر شوی وي.

که غواړی په ژوند کې دا احساس ونه کړی چې تاسې کاملاً بې علاقې شوي یاست، له هرڅه سره د مینې او علاقې هغه حقیقي دلایل مو ولټوئ، که نه د بل په لاس کې د یو کار او شي په ښه ښکاره کېدو پسې مه ځئ او مه د نورو له خولو اورېدلې خبرې د خپلې مینې دلایل راوړئ. تاسې له خپل درونه وپوښتئ چې ایا رښتیا هم هغه کار او یا یو څیز ستاسې له زړه خوښېږي؟ که مو خوښېږي، تاسې ته یې گټه څه ده؟

**خپله رښتینې مینه مو ښه وپېژنئ**

(یاره نه کوم دا توری. هغه چا چې سرته رسولې، څه گټه یې کړې.) کېدای شي دا او دېته ورته نورې ډېرې بهانې مو یا خپله کړې وي او یا مو له نورو اورېدلې وي. تاسې ښه پام وکړئ، هم موږ او هم تاسې ډېر داسې کسان لیدلي چې لومړي سر کې یو کار ښه په شور او شوق شروع کړي، خو له یو څه وخت وروسته یې پرېږدي. دا چې دوی ولې داسې کوي، ډېر دلایل شته، خو تر ټولو مهم یې دا دی چې دوی لومړي سر کې یا د بل کس تر اغېزې لاندې راغلي او یا هم چا په دې اړه غوړې ورته کړې دي. دوی له فکر پرته، سم په لاس پر هغه کار پیل کړی دی. په هر حال، مینه او علاقه هغه څه نه دي چې یو په یو د را پیدا شي او هغه د تل پاتې او رښتینې وي. مینه او علاقه هغه څه دي چې د هر انسان په وجود کې په طبیعي ډول خلق شوي دي، خو سپړل او رابرسېره کول یې واقعبینانه دلایل غواړي.

د چا په خبرو پسې مه ځئ، د هر کار په اړه ښه فکر وکړئ، د ځان لپاره یې پایلې ښې وسنجوئ، له خپل درون سره مو ښه مشوره وکړئ، چې ایا دا کار یا یوڅه مو رښتیا خوښېږي؟ که مو خوښه شوه او پایله یې ستاسې لپاره ښه وه، بیا لاس پکار شئ او د لاسته راوړلو لپاره یې ډېر زیار وباسئ.

**یو کار ولټوئ**

کېدای شي تاسې هم داسې تجربه کړې وي، چې له فلاني کار سره مینه نه لری. خو کله چې د هغه په لټه پسې ووځی او هغه کار پیل کړی، تازه پوهېږی چې دا کار څومره جذاب او پایله یې ستاسې لپاره څومره ښه ده. هغه دي چې بیا دا کار سرته رسوی.

په دې اړه یوه بله لویه تېروتنه چې موږ ډېری ورسره مخ کېږو، هغه دا ده چې موږ ته په ټینگار سره ویل شوي، چې تاسې باید یا د ریاضي، یا کېمیا، یا ادبیاتو او یا هم کومې بلې څانگې متخصص شی. خو له اوله تر اخره دا پوښتنه رانه نه کېږي، چې ایا دا څانگه ستاسې خوښېږي او که نه؟

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه چې موږ ډېر وخت پرته له فکر کولو د نورو په خبرو پسې ځو، دا وخت هم د هغوی خبره منو او هغه څانگه کې تخصص کوو د کومې چې راته سپارښتنه شوې وي. کله چې وخت تېرېږي، ورو ورو مو زړه ترې پورته کېږي او د ډېرو کارونو په اړه دا ډول تکراري پرېکړې مو بالاخره د ځان په اړه دا بد باور پیاوړی کوي، چې گنې څو کارونه چې شروع مې کړل، خوند یې رانه کړ او په زړه مې نه وو جوړ، نو زه په رښتیا له هېڅ شي او کار سره مینه نه لرم.

ځینې وخت خو داسې هم کېږي چې تاسې ته په اړونده برخه کې د تخصص وړاندیز کېږي او تاسې په زړه کې ورسره مینه هم لری، خو خپله مینه نه ښکاره کوی. هماغه دي چې بیا وروسته درته په بله څانگه کې د تخصص کول کفر ښکاري، ځکه دا ستاسې خوښه نه ده او هغه چې خوښه مو وه، د هغې د اظهار جرئت مو ونه کړ. بالاخره داسې فکر کوی چې یاره موږ ته هېڅ هم خوند نه راکوي او هسې بې ذوقه یو.

تاسې داسې مه کوئ، که د خپلې خوښې څانگه کې د تخصص او یا خپلو مهارتونو او علاقې اړوند یوه برخه کې د کار زمینه درته برابره شي، تاسې یې په پوره مینه او اخلاص تر سره کړئ. که مو اړوند څانگه خوښه نه وه، دا وخت هم په پوره جرئت خپله اراده ښکاره کړئ او د هغه څه په لټه کې شئ چې ستاسې خوښېږي.

**د خپلې خوښې وړ یو وړوکی کار مو تر سره کړئ**

دا کار تر ټولو زیات مهم دی. مانا دا چې تاسې یوڅه وخت او انرژي د هغه کار سرته رسولو ته ورکړئ، چې فکر کوی تاسې په زړه کې ورسره مینه لری. کله چې دا کار وکړی، تاسې ته پته لگېږي چې مینه لرل مو ورسره رښتیني دي او که هسې د بل چا په خبرو تېروتي یاست. په دې اړه ډېرې تر سره شوې څېړنې ښیي، چې د خپلې علاقې موندلو لپاره ښه ده چې یو کار یوځل تجربه کړی.

کله کله خو د سړي مینه او علاقه ویده هم وي، مانا دا چې تاسې یې راویښه نه کړی، هغه ځان نه ښکاره کوي چې څه یې خوښېږي او له څه بد وړي. د دې لپاره ښه لار همدا ده چې تاسې ځینې کارونه یوځل تجربه کړئ.

## کرزی: د سیمې هېوادونه دې د سولې پروسې په بیا پیل کې خپل رول ادا کړي

پخواني ولسمشر حامد کرزي له امریکا، مسکو او چین څخه غوښتي چې د افغان سولې مذاکراتو د بیا پیل په برخه کې خپل رول ادا کړي.

هغه د افغان سولې پروسې په برخه کې د مسکو رول مهم بللی او ویلي یې دي چې اړتیا ده، څو د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې ځنډېدلو مذاکراتو د بیا پیل لپاره چین هم خپل رول ادا کړي. حامد کرزي د روسیې له (KP) ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي، سیاسي پروسې ته د طالبانو د شاملولو او مذاکراتو د بیا پیل لپاره دې امریکا، مسکو او چین خپلې همکارۍ زیاتې کړي.

هغه زیاته کړې: «طالبان هم افغانان او د دې خاورې اوسېدونکي دي، دا ډېره ښه ده چې هغوی هم سیاسي پروسې ته شامل او د دولت برخه شي. موږ تمه لرو چې روسیه، د امریکا متحده ایالتونه او چین یوبل ته لاس ورکړي، څو له طالبانو سره د سولې مذاکرات دوام پیدا کړي او افغانستان د تلپاتې سولې خاوند شي».

کرزي دغه راز ویلي، د سپټمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته افغانستان ته د امریکایي او ناټو ځواکونو په راتگ سره افغانانو تمه درلوده چې ترهگرۍ به له منځه یوړل شي، خو په خبره یې، امریکا د ترهگرو د مرکزونو پرځای د افغانستان پر کلیو او بانډو عملیات ترسره کړل. د هغه په خبره، امریکا ونه توانېده چې په افغانستان کې له خپل پوځي حضور سره سره، سوله ټینگه کړي.

نوموړي دغه راز ویلي: «هغه څه چې موږ پوهېږو دا دي چې د امریکا متحده ایالتونو د ترهگرۍ پرضد د مبارزې او د هغوی پر مرکزونو د عملیاتو پر ځای، زموږ په کلیو کې د عامو خلکو ځورول پیل کړل، د ترهگرو پرځای یې عام خلک وژل، اوس ښکاره چې امریکا ونه توانېده افغانستان ته ثبات راولي، هغوی په افغانستان کې زموږ ځینې ارزښتونه هم ترپښو لاندې کړل او د هغو کسانو پرضد یې چې دوی یې بېگانه بلل، سخت اقدامات وکړل».

کرزي ویلي، سره له دې چې ډېری لوېدیځ هېوادونه له روسیې سره د کرېمیا له یوځای کېدو سره مخالف وو، خو وایي؛ ځکه یې ملاتړ وکړ چې پیاوړې روسیه د افغانستان د ثبات لپاره هم مهمه ده. حامد کرزی داسې مهال د افغان سولې پروسې د بیا پیل غوښتنه کوي چې امریکایي رسنیو خبر ورکړی چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي هم د دې پروسې د بیا پیل لپاره خپلې هڅې چټکې کړې دي.

## مخابراتو وزارت: هڅه کوو چې په هېواد کې پستي خدمتونه عصري کړو

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت ویلي، په هېواد کې پستي خدمتونه تر بل هر وخت زیات پراخ شوي دي.

د افغان پست ادارې رییس احمد وحید فیض تېره ورځ د پست د نړیوالې ورځې په مناسبت یوې غونډې ته ویلي چې په افغانستان کې د پستي خدمتونو د عصري کولو هڅې رواني دي.

په داسې حال کې د مخابراتو او ټکنالوژۍ وزارت د پستي خدمتونو د ښه کېدو خبره کوي، چې ځینې پست وړونکي او عام وگړي د دغو خدمتونو د نه معیاریتوب له امله شکایت لري.

محمد تمیم خیرزاد چې شپږ کاله کېږي د پست وړونکي په توگه دنده تر سره کوي، ویلي، کار شوی، خو د پست رسولو لپاره لازم فرصتونه نه دي برابر شوي.

هغه زیاته کړې: «د تېرو کلونو په پرتله لږ ښه شوی، مثلاً مخکې مو د سایکل په وسیله دا کار تر سره کولو، خو اوس یې د موټر سایکل په وسیله کوو، خو ستونزه دا ده چې تېل نه راکول کېږي، له خپلو پیسو تېل اخلو، د ورځې له ٦٠ تر ٧٠ پاکټه پستونه انتقالوو».

په ورته وخت کې، کابل ښاریان د پست رسولو د خدمتونو په اړه نیوکې لري. دوی وایي، تر ډېره پستي پاکټونه دوی ته په مناسب وخت او پته نه رسېږي.

د کابل ښار یوه اوسېدونکي حامد ازادي راډیو ته ویلي: «هغسې چې باید پستي خدمتونو پرمختگ کړی و، نه یې دی کړی. باید د مخابراتو وزارت د خدمتونو د ښه والي په هدف په دې برخه کې لا هڅې وکړي، ما غوښتل مالیزیا ته اسناد ولېږم، د خصوصي پستونو له لارې مې په ډېره لوړه بیه ولېږل، ځکه چې په خپل وخت یې رسول».

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې پستي خدمتونه ۱۵۰ کاله مخکې د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ پر مهال پیل شول.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت مسوولان وایي، اوسمهال په افغانستان کې یو دولتي او ۹ خصوصي شرکتونه دغه خدمتونه تر سره کوي.

د افغان پست ادارې رییس احمد وحید فیض وویل، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د هڅو په نتیجه کې په دې برخه کې په هېوادنۍ او نړیواله کچه د خلکو ستونزې هوارې شوې دي.

هغه زیاته کړې: «د باکسونو ډیجیټالول، د پسته خانو عصري کول، د تعقیب سیستم رامنځته کول، مرکز سره د ولایتي پسته خانو نښلول او د انلاین پلور او پېر د سیستم مطرح کېدل چې اوس خپل تدارکاتي مراحل بشپړوي، هغه کارونه دي چې دغه وزارت د پستي خدمتونو د وړاندې کولو د ښه کېدو په هدف تر سره کړي دي».

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۵,۹۰ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۷,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۱۵مه | ۴۴۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲٤ | ۲٥ | ۲۸ | ۲۳ | ۲۸ | ۲٦ |
| ۹ | ٦ | ۱۰ | ۱۲ | ۱٦ | ۱٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳٥ | لمر ختل ۰٥:٥۷ | ماسپښین ۱۱:٤۰ | مازدیګر ۰۲:٥۳ | ماښام ۰٥:۲۲ | ماخوستن ۰٦:٤٥


## نړۍ



# عمران خان: په خپل ټول توان به د ایران او سعودي ترمنځ د جګړې مخنیوی وکړو

۳

## پوتین: روسیه د خلیج د کړکیچ په کمولو کې مثبت رول لوبولی شي



د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین ویلي، هېواد یې په سیمه کې د بریدونو له زیاتېدو وروسته، په خلیج کې د روانو ترینګلتیاوو په کمولو کې مثبت رول لوبولی شي.

د نوموړي دغه څرګندونې سعودي عربستان ته د نوموړي تر سفر مخکې خپرې شوې دي.

نوموړی سعودي عربستان ته تللی او دا تر یوې لسیزې په زیاته موده کې لومړنی ځل دی، چې پوتین سعودي عربستان ته سفر کوي.

هغه په سوچي کې عرب خبریالانو ته د ریاض او مسکو د اړیکو په اړه ویلي: «موږ سعودي عربستان ته د یو دوست هېواد په سترګه ګورو، زه د سعودي له پاچا او ولیعهد سره ښې اړیکې لرم، موږ تقریباً په ټولو برخو کې خپلې اړیکې پراخې کړې».

پوتین د خلیج له عربي هېوادونو او ایران سره د روسیې د ښو اړیکو یادونه کړې، خو ویلي یې دي چې په دې اړه چې د سپټمبر په ۱۴مه د سعودي د تېلو پر تاسیساتو د بریدونو تر شا د چا لاس و، باوري معلومات نه لري. د یادونې ده چې دغو بریدونو په سیمه کې د سعودي او ایران ترمنځ کړکېچ لا زیات کړ او د تېلو بازارونه یې ګډوډ کړل.

په یمن کې حوثي یاغیانو چې ایران یې ملاتړ کوي، د دغو بریدونو مسوولیت منلی، خو ریاض او واشنګټن یې پړه پر تهران اچولې، خو ایراني چارواکو په دغو بریدونو کې لاس لرل رد کړي دي.

## راپورونه: د داعش ډلې ۷۰۰ جنګیالي د سوریې په شمال کې له زندانه تښتېدلي دي



راپورونه وايي چې د اسلامي دولت یا داعش ډلې سلګونه ملاتړي د سوریې په شمال کې له زندانه تښتېدلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې سیمه کې د ترکي ځواکونو او کردي جنګیالیو ترمنځ درنه جګړه روانه ده.

له زندان څخه د داعش وسله والې ډلې شاوخوا ۷۰۰ ملاتړي په داسې حال کې تښتېدلي، چې د امریکا پوځ ویلي، دوی د سوریې له شمال څخه خپل پاتې سرتېري په دې خاطر وباسي، چې په جګړه کې بند پاتې نه شي.

د امریکا د دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي، ولسمشر ټرمپ د سوریې له شمال څخه د امریکایي سرتېرو د ایستلو امر ورته کړی دی.

ایسپر له سي بي اېس ټلوېزیون سره په خبرو کې ویلي: «د دوو مخالفو او پرمختګ په حال کې ځواکونو ترمنځ په جګړه کې د امریکایي سرتېرو د بند پاتې کېدو احتمال زیات دی او حالات ډېر بې ثباته دي».

د امریکا د دفاع وزیر زیاته کړې چې ولسمشر ټرمپ ورته د سوریې له شمال څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو امر کړی، خو هغه د دې سرتېرو د ایستلو د مهالوېش په اړه جزیات نه دي ورکړي.

د ولسمشر ټرمپ دغه اقدام په داسې حال کې نوي بحثونه راپورته کړي چې هغه لا دمخه له دې کبله له انتقادونو سره مخ دی، چې د داعش پر ضد جګړه کې د امریکا ملاتړي کُردي ځواکونه یې د ترکیې د یرغلیزو عملیاتو پر وړاندې یوازې پرېښي دي، چې ښایي د داعش بېرته ستنېدو ته زمینه برابره کړي.

## مشرانو جرگه هشت ادارۀ حکومتی را به څارنوالی معرفی کرده است



کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه؛ شش وزارت، ریاست پوهنتون کابل و شاروالی کابل را در پیوند به قضایای مختلف، به څارنوالی معرفی کرد.

زلمی زابلی رئیس کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه در یک نشست خبری گفت که اداره های یادشده شامل وزارت های مالیه، زراعت، تحصیلات عالی، انکشاف شهری، تجارت و صنعت، معارف و شاروالی کابل و ریاست پوهنتون کابل بوده و در پیوند به قضایای مختلف، به څارنوالی معرفی شده اند.

زابلی افزوده است که در سال ۲۰۰٦ میلادی، شریف فایض وزیر اسبق تحصیلات عالی، با پوهنتون امریکایی افغانستان قراردادی را به امضا رساند که به اساس آن ۷۴ جریب زمین مربوط به وزارت های تحصیلات عالی و زراعت در دارالامان کابل، به این پوهنتون واگذار شد. قابل ذکر است که شریف فایض فوت کرده است.

او گفت که به اساس این قرارداد، پوهنتون یادشده باید در بدل این زمین، سالانه ۵۰ بورسیه تحصیلی را به پوهنتون کابل می داد، به اندازه زمین واگذار شده باید به همین مساحت، زمین را برای پوهنتون کابل در شهر کابل خریداری می کرد و تاسیسات پوهنځی های وترنری و زراعت که در آن زمان در ساحه دارالامان قرار داشت، در زمینی که تازه خریداری می شود، اعمار می شد.

وی افزود: «پوهنتون امریکایی که مربوط به حکومت و نظامیان امریکا نمی شود و به یک شرکت شخصی امریکایی تعلق دارد، نه تنها که به تعهداتش عمل نکرده، بلکه موازی ۱۲۰ جریب زمین را غصب کرده و از آن استفاده می کند».


به گفتۀ موصوف، مسئولان پوهنتون امریکایی، نه تنها درچند ماه گذشته به نشست های کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه حاضر نشده اند، حتی نماینده اش را به وزارت تحصیلات عالی نیز نفرستاده اند.

## ژوند

## باور مو کلک کړئ او لاس پکار شئ

د یوه سړي په اړه مې یو مطلب لوستی و چې د خپل پور د ورکړې توان یې نه درلود. نوموړي په ماشومتوب کې ډېرې ستونزې لیدلې وې. په دوه کلنۍ کې یې پلار په دې نیت له کوره ووت، چې یو څه د کور سودا راوړي، خو تر نن پورې بیا رانغی. مور او دوه ماشومان همداسې بې سرپرسته پاتې شول. د پوهنتون په دوره کې یې پر یوې نجلۍ زړه بایلود، پرې مین شو او واده یې ورسره وکړ. دومره غریب و چې ان نه یې شوای کولای د ځان لپاره یو پتلون یا یوه ښه کورتۍ واخلي. دی او مېرمن یې د اولادونو څښتن شول او په یوه زاړه کانټینر کې یې ژوند کاوه.

په اوړي کې به یې د ورځې په اوږدو کې د جامو مینځلو د یوه شرکت لپاره کار کاوه او په اونۍ کې به یې ٦۰ ډالر ورکول. د شپې لخوا به یې په یوه دفتر کې پاک کاري کوله. غوښتل یې لیکوال شي، خو د ټایپ د ماشین اخیستو لپاره یې پیسې نه لرلې.




مېرمن یې اړ شوه چې له پوهنتون څخه هغه ماشین کور ته راوړي چې په اسانۍ سره انتقالېږي او د جامو مینځلو په کوچنۍ کوټه کې یې کېښود. کله به چې وزګار و، نو خیالي داستانونه به یې لیکل. خپلې لیکنې یې بېلابېلو خپرندویو ټولنو ته استولې، خو هېڅوا هم ونه منلې. هغه ان په دې نه پوهېده چې خپرندویه ټولنې یې لیکنې لولي که نه، خو د نه ځواب یې ورکاوه. پر وروستۍ کیسې لیکلو یې پیل وکړ، خو دومره ناهیلی و چې له لږ لیکلو وروسته یې کاغذ په لاس کې ومروړ او د کثافاتو ټوکرۍ ته یې واچاوه.

مېرمن یې کور ته راغله او د کثافاتو په ستل کې یې مروړل شوي کاغذونه را واخیستل، په ځیر ځیر یې ورته وکتل او یوې خپرندویې ټولنې ته یې ولېږل. د خپروندویې ټولنې لیکنې او داستانونه خوښ شول او ترون یې ورسره لاسلیک کړ. له چاپ وروسته د دې داستان پنځه میلیونه نسخې وپلورل شوې. په ۱۹۷٦ ز کال کې د همدې داستان له مخې فلم جوړ شو چې د کال غوره فلم شو. پوهېږئ؛ دا کس څوک و؟

دا کس سټېفن کېنګ و چې د اوسنۍ دورې تر ټولو غوره لیکوال دی.